په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ایمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: "په مؤمنانو کې تر ټولو د کامل ایمان لرونکي هغه دي چې ښه اخلاق ولري او په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره ښه وي".

[حسن] [ابو داود، الترمذي، او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چې د ایمان په لحاظ تر ټولو کامل انسان هغه دی چې ښه اخلاق ولري او دا کار په ورین تندي، نیکۍ کولو، ښو خبرو او له نورو څخه په ضرر لرې کولو سره کیږي. او تر ټولو غوره مؤمن هغه دی چې د خپلو مېرمنو لپاره غوره وي، لکه د هغه مېرمن، لونې، خویندې او خپلواني. ځکه چې هغوی د نورو په پرتله زیات حق لري چې ښه سلوک ورسره وشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5792

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee